SuffolkCollective
Suffolk partners and agencies working together
The Collaborative Communities COVID-19 Board

suffolk Resilience

MESSAGE CASCADERS

# ځان جلا ساتل

## مالي مرسته

**د ځان جلا ساتلو لپاره د پیسو ورکړه**
که چیرې تاسې کم عاید لرئ او کار کولای نشئ ځکه چې د NHS ټیست او ټریس خدمت لخوا درته ویل شوي چې ځان جلا وساتئ، کیدای شي د دولت د ټیست او ټیریس مالي مرستې پروګرام لخوا د **۵۰۰ پونډو د ترلاسه کولو** لپاره مستحق اووسئ.

**د پیسو د مستحق اوسېدلو لپاره:**
۱.تاسې ته باید د NHS ټیست او ټریس خدمت لخوا ویل شوی وي چې ځان جلا وساتئ او یوه د اعتبار وړ شمیره درکول شوی وي ځکه چې ستاسې د کوید-۱۹ نتیجه مثبته وه یا تاسې له داسې یو کس سره نږدې پاتې شوي یاست چې مثبت کوید-۱۹ درلود، **او**
۲.تاسې باید رسمي کار (ایمپولاید) یا شخصي کار (سیلف ایمپولاید) ولرئ، او
۳. تاسې باید ونشئ کولای له کور څخه کار وکړئ او د ځان جلا ساتلو له امله خپل عاید له لاسه ورکوئ، **او**
۴.تاسې یا ستاسې د ژوند ملګری باید مالي مرستې لکه یونیورسل کریډټ، هاوزنګ بنیفت (د کور کرایې لپاره مالي مرسته) ترلاسه کړئ

**کیدای شي د دې په عوض تاسې د اختیاري مالي مرستې لپاره مستحق اووسئ که چیرې:**
۱.تاسې ۱ تر ۳یم پورتني شرطونه پوره کړئ، **او**
۲.اوس مهال تاسې مالي مرستې نه ترلاسه کوئ، **او**
۳. د یو مجرد کس په حیث د ۱۹۲۰۰ پونډو څخه ټیټ یا د یوې جوړې او یا داسې کورنی په حیث چې یوازې مور یا پلار لري د ۳۷۴۰۰ پونډو څخه ټیټ کلنی ناخالص عاید ولرئ
۴.ستاسې د کورنۍ پس اندازې پیسې له ۳۰۰۰ پونډو څخه ټیټې وي.

**څنګه درخواست کولای شئ**
د ځان جلا ساتلو مالي مرستو د درخواست کولو لپاره، هیله ده د خپل کونسل څخه (چیرته چې تاسې مالیه ورکوئ) د درخواست انټرنیټي فورمه ډکه کړئ

د ځان جلا ساتلو د مودې له لومړۍ ورځې څخه وروسته درخواستونه باید د ۲۸ ورځو په ترڅ کې تسلیم شي

دا پرګرام اوس مهال تر ۳۱ مارچ ۲۰۲۱ پورې خلاص دی.

**درخواست کولو په مهال د څه ډول ثبوت وړاندې کولو ته اړتیا لرم؟**
د NHS ټیست او ټریس خدمت هغه خبرتیا چې تاسې څخه یې غوښتې چې ځان جلا وساتئ (په دې کې به یو خاص پیژند شمیره وي)، **او** یو بانک سټیټ منټ چې ستاسې نوم او آدرس تایید کړي، **او**
د کار او عاید ثبوت، یا که چیرې تاسې شخصي کار لرئ بیا نو د مالیې د ورکولو کلنی سند (سیلف اسیس منټ)، د کاروبار عاید او داسې ثبوت چې ستاسې کاروبار هغه خدمتونه وړاندې کوي چې د ټولنیز اړیکو څخه پرته ترسره کیدای نشي

**پیسې په څنګه ورکول شي؟**
د پیسو ورکړه به د بانک له لارې ستاسې هغه بانکی حساب ته کیږي چې تاسې د ثبوت په ډول یې مونږ ته سټیټ منټ وړاندې کړی.

**لا زیاتې مرستې د لاسرسي وړ دي**
که چیرې تاسې د خپل لګښتونو، کار یا کور په هکله اندېښمن یاست، **په وړیا ډول** د سفاک مرستې او مشورې خدمت ته په شمیره 0800 068 3131 له دوشنبه تر جمعې ورځې د سهار له ۹ څخه د ماښام تر ۵ بجو پورې ټیلیفون وکړئ.

BANK TRANSFER

SUFFOLK NEEDS YOU

Become a Covid-19 message cascader
www.suffolk.gov.uk/message-cascaders

01/02/2021

Pashto